PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت دویم کال، ۹۴ مه ګڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د سلواغه ۱۳ مه د۱۴۳۲ هـ ق د صفر المظفر ۲۷ مه د۲۰۱۱ م د فبروری ۲ مه

درس قرآن

کله چې شپیلۍ پوه کړی شي نو بیا به خپل منځي تولې اړیکې غوڅې او له یو بل نه به پوښتنه هم نه کوي. په هغه ورځ چې د هر چا تلی درنې شوی نو همغوی بریمن دي. او د چا چې تلی سپکې شوی نو ځانونه یې تاواني، او تل به په جهنم کې پاتې وي، مخونه به یې په اور کې سوځي او تل به چینګ داړی وي. ورته به وویل شي چې آیا پر تاسو زما آیتونه نه وو لوستل شوي چې تاسو به درواغ ګڼل.
(سورة المؤمنون: ۱۰۱ - ۱۰۵)

درس حدیث

له حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي:
په جهنم کې یوه داسې کنده ده چې له هغې نه پخپله جهنم هره ورځ څلور سوه ځله پناه غواړي دا کنده د محمد صلی الله علیه وسلم د اُمت ریاکارو خلکو لپاره تیار کړی شوی ده. (مشکواة المصابیح)

کارشناس روس:

امریکا در افغانستان شکست خورده است

مشکلات و پیچیدگی هاي سیاست خارجي امریکا "، به بررسی نحوه مدیریت و حضور امریکا در افغانستان و عراق پرداخت.

وي در این برنامه با اذعان به شکست سیاست هاي امریکا در این منطقه تأکید کرد: ورود امریکا به عراق به علاقه این کشور براي تشکیل خاورمیانه بزرگ محدود نمی شود اما مهم است، بعد از پایان جنگ سرد و فروپاشي شوروي اتفاقاتی در نظام بین‌الملل رخ داد و امریکا جنگ‌هایی در بوسنی و کوزوو انجام داد و با پیروزي خود را بدون دشمن می‌پنداشت.

به گفته بیکلو، در سال ۲۰۰۱ امریکا یک دشمن بنام طالبان ایجاد کرد و برای شکست آنها بیشتر از ۱۰ سال

بقیه در صفحه ۴

خبر گزاري فارس:
"الکسی بیکلو " در میز گرد سیاسی شبکه راشا تودی تأکید کرد: امریکایی‌ها برای شکست طالبان بیش از ۱۰ سال است که در افغانستان اردو زده‌اند و نه تنها هیچ نتیجه‌ای نداشته بلکه شکست خورده‌اند.
به گزارش فارس، "الکسی بیکلو " کارشناس سیاسي روسیه در برنامه "روابط عربی "امریکایي "اسلامي و

شېرپاو د افغانستان د سولې د بهیر د ملاتړ غوښتنه وکړه

پاکستان، رسنی:
د پاکستان د کورنیو چارو پخواني وزیر او د پیپلزګوند د شېرپاو ډلې مشر افتاب احمد خان شېرپاو له پاکستان، افغانستان او د امریکا له متحدو ایالتونو څخه وغوښتل چې د افغانستان د شخړې د پای ته رسولو لپاره د سولې د هغې طرحې ملاتړ وکړي چې درستې ښکلې او نفوذ لرونکې خواوې پکې شاملې وي.
شېرپاو د یکشنبې په ورځ په پېښور کې یوې خبري غونډې ته وویل، پاکستان باید په واشنګټن کې د امریکا، افغانستان او پاکستان په راتلونکو دریو اړخیزو خبرو اترو کې د سولې د

پاتې ٤ مخ

ټوني بلېر د حسني مبارک له تلو پرته بله لاره نشه

مصر، رسنی:
د مصر دولتي تلویزیون وویل چې ولسمشر حُسني مبارک نوې کابینې ته په داسې حال کې لوړه ورکړه چې د ده د دېرش کلنې واکمنی پرضد د اعتراض کوونکو د مظاهرو پرون اوومه ورځ پوره شوه.
د کورنیو چارو د وزیر حبیب العدلي (Habiv el Adly) پرځای، چې اعتراض کوونکي یې د امنیتي ځواکونو له لوري پر شویو بې رحمیو ملامتوي، د پولیسو یو متقاعده سمونوال (جنرال) محمود وقدي ټاکل شوی دی.
خو دفاع وزیر فیلډ مارشال حسین طنطاوي، چې له ډېرو کلونو راهیسې دا چوکۍ په لاس کې لري، او د باندنیو چارو وزیر احمد عبدالغیط په خپل حال پاتې شوي دي.
د مصر نوي مرستیال ولسمشرعمرسلیمان پرون وویل چې ولسمشر حسني مبارک دنده ورسپارلې چې د رژیم پرضد د اعتراضونو په منځ کې له مخالفانو سره ژر تر ژره خبرې اترې

پاتې ٤ مخ

د اوباما استازي له امریکا سره د اسلامي نړۍ اړیکې مهمې وبللې

کابل، رسنی:
دا افغانستان ته د هندي الاصله امریکایي مسلمان او د اسلامي کنفرانس په سازمان کې د امریکا د ولسمشر ځانګړی استازی رشاد حسین دویم سفر دی.
نوموړي په کابل کې له خبریالانو سره په یوې غونډه کې له افغانستان او اسلامي نړۍ سره د امریکا په اړیکو خبرې وکړې او دغه اړیکې یې مهمې وبللې.
ښاغلي حسین په دې وروستیو کې په کابل کې د اسلامي هېوادونو د کنفرانس د سازمان د دفتر پرانیستل یو مهم ګام وباله او ویې ویل، چې دغه سازمان له افغانستان سره د اسلامي هېوادونو د مرستو په همغږي کولو کې ښه رول لوبولی شي:
(موږ د دې خبر په اړه خوښ یو، چې د اسلامي کنفرانس سازمان په کابل کې خپل دفتر پرانیستی دی او استازي یې ټاکلی دي. موږ له افغانستان سره د اسلامي هېوادونو د مرستو د همغږي کوونکي په توګه د دغه سازمان د رول هرکلی کوو.)
په کابل کې د اسلامي کنفرانس د سازمان دفتر څو اونۍ مخکې پرانیستل شو. که څه هم یو شمېر افغانان په افغانستان کې د سولې او ثبات په ټینګولو کې د دې سازمان رول مهم

پاتې ٤ مخ

د وکیلانو پر اوږو د مسؤولیت درووند بار

دریم مخ

موږ لا د نجات لاره نه ده پیژندلې

دریم مخ

فرعون عصر در حال غرق شدن

صفحه سوم

سه تن از وکلای ولسی جرگه جدید از سوی محکمهء اختصاصی جلب شده اند

صدیق الله حقیق

کابل، رسانه ها:
محکمه اختصاصی برای رسیده گی به دعوای حقوقی نامزدان انتخابات ولسی جرگه برای ۳ تن از وکیلان برنده این انتخابات جلب فرستاده است.
رییس محکمه اختصاصی نامی از این وکیلان برنده نبرد اما گفت که ممکن این وکیلان از ولایت های فاریاب، تخار و پکتیکا باشند.
صدیق الله حقیق رییس محکمه اختصاصی برای رسیده گی به دعوای حقوقی نامزدان معترض می گوید که در حال حاضر دوسیه های نامزدان معترض ۱۲ ولایت مورد بررسی قرار می گیرد.
او گفت:
"ولایاتی که عجالتاً بررسی دوسیه های مربوط به انتخابات در آن از سوی محکمهء اختصاصی مد نظر گرفته شده است این ها اند، کابل، ننگرهار، کندهار، کندز، هرات، بلخ، بغلان، فاریاب، زابل، هلمند، سمنگان و بدخشان. "
رییس محکمه اختصاصی می گوید، هرگاه با فرستادن ۳ جلب، این ۳ وکیل برنده به محکمه حاضر نگردند، محکمه در غیاب آنان فیصله خواهد کرد.
آقای حقیق می گوید که هیاتی متشکل از ۱۵ ارگان دولتی برای رسیده گی دوسیه های نامزدان مربوط به این ۱۲ولایت گماشته شده است.
صدیق الله حقیق می گوید، که از ۳ روز به این سو به کمسیون مستقل انتخابات مکتوب فرستاده اند تا همکاران آنان در این ۱۲ ولایت برای رسیده گی به دعوای حقوقی نامزدان معترض کمک نمایند اما تا اکنون کمسیون انتخابات برای این محکمه جواب ارایه

بقیه در صفحه ۴

تمام عواید معادن افغانستان به وزارت مالیه تحویل داده می شود

رادیوی آزادی:
وزیر معادن افغانستان می گوید که از این پس تمامی عواید به دست آمده از استخراج معادن و مسایل وابسته به آن به صورت شفاف به وزارت مالیه افغانستان تحویل خواهد شد. وحید الله شهرانی وزیر معادن افغانستان این مطلب را امروز در کابل در یک کنفرانس مشترک خبری با وزیر مالیه افغانستان ابراز کرد. در عین حال داکتر عمر زاخیل وال وزیر مالیه افغانستان که قراردادی را در این زمینه با وزیر معادن

بقیه در صفحه ۴

افزایش قیمت تریاک باعث افزایش کشت کوکنار در افغانستان نشده

کابل، رسانه ها:
سازمان ملل متحد روز دوشنبه در یک گزارشی اعلام داشت که بلند رفتن قیمت تریاک موجب افزایش کشت کوکنار در جنوب افغانستان نشده است.
در این گزارش همچنین گفته شده که کشت کوکنار عمیقاً وابسته با نبودن امنیت و کمبود کمک های زراعتی می باشد.
سروی تریاک ۲۰۱۱ که از سوی ملل متحد انتشار یافته در آن گفته شده، قیمت بلند تریاک باعث آن نشده است تا در ولایات هلمند و قندهار که بزرگترین تولید کننده گان تریاک به شمار می روند، کشت کوکنار افزایش یابد.
این گزارش زمستانی از بررسی کشت کوکنار در افغانستان توسط دفتر مبارزه با مواد مخدر و جرایم سازمان ملل متحد تهیه شده است. ملل متحد همچنین پیش بینی کرده که کشت کوکنار در این دو ولایت جنوبی در سال ۲۰۱۱ کاهش خواهد یافت.
در گزارش ملل متحد آمده است که

بقیه در صفحه ۴

احمدي نژاد :

نیواکګر ځواکونه دې له افغانستانه ووځي

هیواد ولسمشر محمود احمدي نژاد له خپلو ګاونډیو هیوادونو سره د اړیکو پر پراختیا ټینګار وکړ او له افغانستان سره یې د همکارۍ د پیاوړتیا غوښتنه وکړه.
پریس تي وي انګلیسي ژبې تلویزیون د ایران د فارس خبري اژانس له مخې راپور ورکړ: ولسمشر محمود احمدي نژاد په تهران کې د افغانستان تاند:
د ایران د پریس تي وي د راپور له مخې د دغه

پاتې ٤ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

اسلام آغازگر اخلاق حرب و سلم

اسلام منحیث آخرین و کامل ترین ارشاد الهی برای هدایت بشریت در رابطه با جنگ و صلح رهنمودهایی دارد که سیرت پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم و خلفای راشدین چراغ راه امت اسلامی میباشد. در یکی از غزوات پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم به جسد به خون آغشتهٔ زنی متوجه شد و از روی انکار به آنچه پیش شده بود فرمودند: آیا این هم می جنگید. در غزوهٔ احد که مسلمانان به اثر اهمال در تطبیق فرمان پیامبر صلی الله علیه وسلم هفتاد کشته در معرکه گذاشتند، میخواستند شمشیر شان را به یکی از اصحاب کرام بسپارند تا در برابر لشکر متجاوز شرك و جهالت با آن بجنگد، پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمود: چه کسی حق آنرا ادا میکند پس از تأمل به چپ و راست شان راضی شدند آنرا به ابو دجانه بسپارند. آن صحابی جلیل القدر در اثنای قتال به هند زوجهٔ ابو سفیان برخورد که بزرگترین مشوق مشرکین در غزوهٔ احد بود از او رو گردانیده فرمودند: مناسب نیست با شمشیر پیامبر صلی الله علیه وسلم گردن این زن را بزنم در حالی که همین زن بود که طراحی توطئهٔ وحشتناك قتل سید الشهداء حمزه ابن عبدالمطلب عم مبارك پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم را میکرد. مؤرخین و اصحاب سیرت این برخورد ابو دجانه (رض) را مصداقی بزرگ در اداء حق شمشیر پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم شمرده اند. پیامبر و یاران راهش بعد از او شان به سپاهیان اسلام که به جنگ معاندان دعوت نجات بخشای اسلامی سوق می شدند ارشاد می فرمودند که زنان، کودکان و مو سفیدان را نه کشند و اشجار را قطع ننمایند.

قتل زنان، کودکان و مردمان بی دفاع به هر بهانهٔ که باشد و از جانب هر کسی که باشد جنایت نابخشودنی است که از آداب حرب و بالاخص از شجاعت و مروت مرد مسلمان بدور است، آنهاییکه تحت نام اسلام کودك سه سالهٔ را به رگبار می بندند نه تنها که در راه اسلام نرفته اند به آسیاب دشمنان اسلام آب ریخته اند تا خشم و کینهٔ بی خبران از رحمت و عطوفت آیین نجات بخشای اسلام را نسبت به اسلام عزیز براذگیزند.

حزب اسلامی افغانستان که یکی از منظمات اسلامی و برخاسته از میان توده های مظلوم و سرزمین بلا کشیده و شهید پرور مان افغانستان میباشد. با پیروی و متابعت از خط پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم و صحابهٔ جلیل القدر آن که مکتب اسلام نمادی از منهج تابان و الگوی از طریقت آن دعوتگران است، آنچه را که اسلام عزیز و دساتیر پیامبر صلی الله علیه وسلم و پیشوایان دین در تقابل و تناقض قرار داشته باشد مردود می شمارد و مخالف هر نوع زور گویی، ارعاب، شکنجه، استبداد و استعمار ملیت های در بند و محکوم بوده و اعمال غیر انسانی را در هر کجا که از کرهٔ زمین که بالای انسان های مظلوم و بیدفاع با زور و شکنجه، ریختن بمب ها، ترور شخصیت ها، غصب و تخریب شهرها، مکاتب، منازل و کشتن افراد بیگناه صورت میگیرد محکوم و آنرا از نظر سیاست و مبارزهٔ خویش عمل شیطانی شمرده و نفرت شدید خویش را در برابر زور گویان ملی و بین المللي ابراز میدارد.

پرورد گار جلیل کشور عزیز ما را از میدان مسابقهٔ زور گویان و قدرتمندان بی مروت و بی مسؤولیت برهاند.

د وکیلانو پر اوږو د مسؤولیت درانه بار

عبیدالله صافی

په پارلمان کې راغونډ شوي اشخاص د افغانستان د مسلمان ولس له خوا غوره شوي وکیلان دي او هر یو وکیل پخپله هم په بشپړ قوت ادعا کوي چې زه د خپل ولایت د وګړو منتخب شوې نماینده او استازی یم. نو ځکه د ملت ټول وکیلان ستر مسؤولیت لري چې په صحیح توګه د خپل ولس د حقوقو د تحقق او دهغوی د خیر ښېګڼې لپاره نه ستړې کېدونکي هلې ځلې وکړي.

که د ولس وکیلان خپل درونډ مسؤولیت ته متوجه شي او د وکالت ستر مفهوم وپېژني نو له دوی زیات بل څوك د ولس معتمد او د باور اشخاص نشي کېدلی.

همدا وکیلان دي چې د خپل هېواد سرنوشت ټاکي او د خپل ولس مستقبل جوړوي. ګویا په پارلمان کې وکیل هغه بنسټیز محور دی چې د خپل ولس تقدیر ورسره تړل شوې، نو ځکه د پارلمان وکیلان له بل هر چا درونډ مسؤولیت لري چې خپل قابلیت او انرژي د هېوادوالو د خېر ښېګڼې او د خپلې خاورې د ښېرازۍ او استحکام لپاره وقف کړي، لنډه دا چې د ولس غوره شوي وکیلان د ملت د ملا د تیر حیثیت لري او د قومي وحدت بنیادي ستنې دي. ددوی په یووالي او اتفاق کې د ولس یووالي او ددوی په اختلاف کې د ولس او خاورې تاوان نغښتل شوی دی. نو ځکه پکار دي چې وکیلان د خپلو ذاتي ګټو پر ځای د خپل ولس ګټې مقدم وګڼي او د هر هغه ګام له اوچتولو څخه ډډه وکړي چې د هېوادوالو په تاوان تمامیږي.

چې د خپل ولس سرونه اوچت او پدې خبره فخر وکړي چې ولس له خوا غوره شوي وکیلان یې دهغوی په اعتماد پوره ختلي دي، په دې لړ کې د وکیلانو لومړی ستر مسؤولیت به دا وي چې په پارلمان کې د هر ډول ناروا او شیطاني تعصبونو رېښې ختمې او پخپلو کې د

اسلامي او افغاني وروروولی کلک لاسونه ورکړي، د پارلمان له ایوان نه خپل ولس ته دا عملي پیغام او ثبوت وړاندې کړي چې هغوی یو موټی افغانان او مستحکم هېواد غواړي، داسې یو هېواد چې له هر ډول تعصبونو څخه پاك او د اسلام د سپېڅلی دین په پوخ رنګ کې رنګ شوې وي او بل هېڅ ډول غیر اسلامي رنګ ورباندې نه شي ختلی.

وکیلان دې په دې واقعیت ځان پوه کړي چې هغوی د هېواد

ولس پر دغو وکیلانو ډېر غټ اعتماد کړی دی نه ښایي د هغوی اعتماد جرحدار او پر هغوی پورې تړلې نیکې هیلې په ناهیلې بدلې کړي.

له وکیلانو څخه د ملت هیله او جدي غوښتنه داده چې په پارلمان کې د خپل ولس استازیتوب په داسې شانداره توګه ترسره کړي چې د خپل ولس د دعا او د زیات اعتماد مستحق وګرځي.

او ملت جوړونې د مسؤولیت په ستر مقام کې قرار لري دهغوی هره غلطي او خویدنه د ټول ملت په خویدنه، او د هغوی هر نیك اقدام او پر اخلاص مبني هر عمل د افغانستان د مسلمان ولس د غښتلتیا او پرمختګ بنسټ جوړېدلی شي، نو ځکه نه ښایي چې وکیلان د خپل مسؤولیت په احساسولو او عملي کولو کې د معمولي غفلت مرتکب شي او پدې توګه خپل هېواد او ولس ته تاوان ورسوي، بلکې دوی ته پکار دی چې خپل هره کړنه او فیصله د خپل دین او ایمان په رڼا کې تعقیب کړي او تر هغه دې د یو کار له کولو څخه په کلکه ډډه وکړي تر څو چې د اسلام سپېڅلی دین دهغه د کولو صریح حکم نه وي ورکړی، همدارنګ له هر هغې کړنې څخه دې په جدي ډول ځانونه وساتي چې په سپېڅلی دین کې هغه حرام یا مکروه وي.

د افغانستان جګړه ځپلې ولس له بل هر وخت نه ملي یووالي، امن، قانونمندي، بشپړ خپلواکي او داخلي استحکام ته ضرورت لري او لدې پرته افغانان د برې او پرمختګ درشل ته نه شي رسیدلی، د پارلمان وکیلان دې په لومړی ګام کې ددغه ستر ارمان د تحقق لپاره پخپلو منځونو کې د یووالي او همغږی مثالي ثبوت وړاندې

وکیلانو ته په حقیقت کې د خپل ولس د امانت هغه لوی بار په اوږو دی چې په پارلماني ټاکنو کې هغوی پخپله خوښه په خپل سراخستې او ددې درونډ امانت د ترسره کولو ژمنه یې کړې ده. د یو متعهد مسلمان وکیل لومړی دنده داده چې پخپل کړی ژمنه کلك ودرېږي او خپل وکالت په پوره ایمانداري او امانت داری ترسره کړي.

په پارلمان کې د وکیلانو په قرآن کریم د لوړې د مراسمو له ترسره کولو وروسته عملاً ایماني، اسلامي او افغاني دنده یې پیل شوی او د امتحان په لوی ازمېښت کې قرار لري، ملت دوی ته سترګې په لاره دی چې دوی د کار له لومړی ورځې نه خپل درونډ مسؤولیت په دومره ذکاوت او امانت داری ترسره کړی

او ددې لارې سرلارې جوړ شي.

موږ په بشپړ باور ویلی شو چې که چېرته وکیلانو خپل مسؤولیت په صحیح مانا ترسره کړه او د ولس له خوا ورته سپارل شوې د وکالت دنده په بشپړ دیانتداری او امانت داری پای ته ورساوه نو افغانستان به له ډېرو داخلي او خارجي کړاوونو څخه ډېر ژر نجات ترلاسه کړي.

که الله مکړه د خپل مسؤولیت په ترسره کولو کې ناغېړي وکړه او له خپل ولس سره په کړیو ژمنو پښې کېښودلې نو د ولس له سختې کرکې سره به مخامخ شي، په دنیا کې به هم ورته د حقارت په سترګو کتل کېږي او آخرت کې به هم د لوی الله په قهر او غضب کې اخته شي.

موږ لا د نجات لاره نه ده پيژندلې

محمد خليل

په دې خبره پوهېدل پكار دي چې يوازې په ژبه د ايمان دعوه كول او خپل ځان ته د مؤمن نسبت كول تر هغه د منلو نه دی تر څو پورې چې د عمل او ازمېښت په ډگر كې ددې ثبوت وړاندې نه كړي.

لكه چې الله تعالى پخپل كتاب قرآن كريم كې ددې خبرې بشپړ وضاحت كړی دی چې: هېڅوك دې دا فكر ونه كړي چې يوازې د ايمان په دعوی سره همداسې بې امتحانه پرېښودل كېږي په داسې حال كې چې له دې نه مخكې ټول هغه خلك مو امتحان كړي دي. الله تعالى خامخا گوري چې څوك پخپل په دې دعوه كې رښتوني دي او څوك دروا‌غجن. (آل عمران: ۱۷۹)

كه له واقعيت نه ستر گې پټې نه كړو نو د افغانستان اكثريت وگړي په دې يوه خبره مغرور دي چې هغوی مؤمنان او مسلمانان دي او يوازې همدغه اعتراف دهغوی لپاره بس دی، په داسې حال كې چې د الله تعالى د فرمان او حكم مطابق داسې فكر او عقيده درلودل باطله ده، زموږ د همدغسې غلطې عقيدې له كبله حالات تر دې كچه خراب شوي دي چې د افغانستان په گوډ گوډ كې گناهونو سر اوچت كړی دی او هر چېر ته له فساد، ظلم، بې عدالتۍ او ناروا پر ته بل څه په نظر نه راځي، داسې كوم گناه او بدعملي نشته چې په دې هېواد كې نه ترسره كېږي. گويا زموږ د ايمان او اسلام دعوه د ازمېښت په ډگر كې صفر دی او موږ د ژوند په يوه ځانگه كې هم د ايمان د عملي ثبوت د وړاندې كولو جوگه نه يو. كه رښتيا موږ او زموږ ديني او سياسي مشران د ايمان په دعوه كې رښتوني يو نو بيا په ايمان كې ددې خبرې ځای او جواز چېر ته ور كول شوېدی چې مسلمانان دې د واحد امت پر ځای پر څو ډلو ټپلو وويشل شي، د قرآنكريم او نبوي سنتو څخه سرغړونه وكړي، د امانتدارۍ او ديانت دارۍ له روح نه خالي شي؟ محمد صلى الله عليه وسلم خو له هغه چا نه د ايمان او دين نفي كړې دی چې امانت او ديانت نه لري، هغه څوك يې له خپل امت نه ايستلي دی چې عصبيت ته لمنه وهي، هغه چاته دوزخي ويلې دی چې رشوت وركوي او يا اخلي، هغه څوك يې له ايمان نه عاري گرځولي چې خيانت او ټگي كوي.

د مؤمن مطلب خو دا دی چې د الله په ذات، دهغه پر ملائكو، كتابونو، رسولانو، پر آخرت او په دې خبره چې د خير او شر اندازه كوونكی الله جل جلاله دې پوخ ايمان ولري او په دې خبره هم يقين ولري چې له مرگ نه وروسته ژوندون حق دی. هر هغه څوك چې واقعاً په دغو خبرو ايمان لري نو ددې لازمي غوښتنه داده چې د الله او دهغه د رسول صحيح اطاعت وكړي خپل ټول ژوند د قرآن كريم او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د هداياتو مطابق تېر كړي، هغه نظام او قانون نافذ كړي چې الله تعالى ورته د قرآن كريم په شكل كې وركړېدی، په ټولو كارونو كې د محمد صلى الله عليه وسلم كړنلاره او سنت خپل كړي، د ژوند په ټولو چارو كې هغه صلى الله عليه وسلم مقتدی او لارښود ومني، ځكه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم اطاعت او پيروي په حقيقت كې د الله جل جلاله اطاعت دی، او دهغه صلى الله عليه وسلم له كړنلارې نه سرغړونه د الله جل جلاله له بندگي نه بغاوت دی.

زموږ په وړاندې د الله جل جلاله سپېڅلی كتاب قرآن كريم او د نبي كريم صلى الله عليه وسلم د ژوند ټوله كړنلاره د احاديثو او ثابتو سنتو په بڼه كې محفوظ او موجود دي، داسې كوم مشكل نشته چې لاس رسی ورته نه لرو، د تكنالوژی، كمپيوټر او انټرنټ په دې زمانه كې خو هر څوك كولی شي چې د الهی قانون له رڼا نه ځان خبر او وربانندې عمل وكړي خو ډېر افسوس چې ډېر مسلمانان ددې د زده كولو كوښښ نه كوي او كه ځينې د زده كولو زيار وباسي نو بيا د عمل په ډگر كې د پياده كولو كوښښ نه كوي. زموږ د ژوند ډگر له يو عالم كړاوونو او جنجالونو څخه ډك دی، څوك آهونه او فريادونه كوي او څوك هم د خفگان اوښكې تويوي، مگر په هغه څه فكر نه كوي چې ددې نه د خلاصون ضمانت وركوي، لكه څنگه چې د هر ناروغۍ لپاره خپلې خپلې دواياني دي او دهغوی په استعمالولو سره ناروغي له منځه ځي همداراز له دغو كړاوونو څخه د خلاصون لپاره هم يواځينی درمل مضبوط ايمان او پخپل دين صحيح عمل كول دي. لكه څنگه چې د ملاريا ناروغي د زكام په دواياتو او تبركلوز ناروغي د اعصابو په دوايانو نه ښه كېږي همداراز په ټولنه كې د فساداتو درملنه اخوا دېخوا شيانو نه شي كېدلی بلكې ددې حتمي علاج پر الله جل جلاله، دهغه پر دين، دهغه پر رسول محمد صلى الله عليه وسلم، د آخرت په ورځ حساب، كتاب او دوزخ، جنت باندې صحيح عقيده درلودل دي.

كه موږ واقعاً غواړو چې د ظلم او تيارۍ له ژوند نه خلاصون ترلاسه كړو او عادلانه فضاء كې د امن او امان ژوند تېر كړو نو لدې پرته بله لاره نشته چې د الله جل جلاله پر دين كلكې منگولې ولگوو او د رسول الله صلى الله عليه وسلم صحيح متابعت وكړو.

ډېر افسوس چې زموږ د حكومتي چارواكو په شمول ديني، سياسي او نورو ډېر گوندونو مشرانو او عامو ولسي وگړو په دې اړه صحيح پاملرنه نه ده كړې، ددې پر ځای چې ددغو ټولو شته ستونزو علاج د الهي قانون په رڼا او د محمد صلى الله عليه وسلم د عملي اتباع له لارې وكړي په هغو لارو چارو كوي چې اصلاً دې لپاره مناسبې نه دي او د ستونزو د ختمېدو پر ځای نور هم زياتېږي وخت هم ضايع كېږي او مال هم. ښه به دا وي چې له نورو تجربو نه لاس په سر شو او هغه واقعي او رښتونی نسخه استعمال كړو چې الله تعالى زموږ د خير ښېگڼې لپاره را استولې ده او په هغه كې د ټولو مادي او معنوي ستونزو كافي او شافي درملنه موجوده ده.

د اسلامي تاريخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دكتور عبد الوهاب (حسام)

(څلورمه برخه)

س۴۹: د پيغمبر عليه السلام نه وروسته چا د لومړي ځل لپاره په مكه كې قرآن په ښكاره ډول ولوست او قريشو ته يې واوروله؟

ځ: عبد الله د مسعود ځوی رضي الله عنه.

س۵۰: په مدينه كې د وحی لومړی ليكونكی څوك و؟

ځ: أبي د كعب ځوی د قيس لمسی انصار خزرجي.

س۵۱: په اسلام كی لومړی بيعت كوم وه؟

ځ: د عقبه اولی بيعت و.

س۵۲: لومړۍ ښځه چې د پيغمبر عليه السلام سره يې بيعت وكړ څوك وه؟

ځ: عفراء د عبيده لور لومړۍ ښځه وه چې د پيغمبر عليه السلام سره يې لومړی بيعت وكړ.

س۵۳: څوك لومړی په ښكاره شكل مهاجر شو؟

ځ: عمر رضي الله عنه لومړی هغه شخص و چې ويې ويل: كه څوك غواړي چې مور پری بوره شي، زامن يې يتيمان شي او ښځه يې كونډه شي نو زما مقابلې ته دې د ناو ته را ووځي.

س۵۴: مسلمانانو او عربو د لومړی ځل لپاره كوم خندق وپيژندو؟

ځ: دا هغه خندق و چې مسلمانانو د احزاب غزا په ورځ د سلمان فارسی په اشاره چې هغه پيغمبر عليه السلام ته و ويل: ای د الله رسوله زمونږ په وطن كې چې مونږ محاصره شوو نو خندق كنو.

س۵۵: په اسلام كې لومړی څوك وژل شوی؟

ځ: عمرو د خضرمي ځوی مشرك لومړی سړی و چې په اسلام كې د يو مسلمان په لاس و وژل شو او نور ملكري يې بنديان شول، دوی يوه قافله روانه كړی وه چې مميز او نور تجارتي توكي پرې بار و هغه يې ترې غنيمت كړل.

س۵۶: په اسلام كې لومړی بندي څوك و؟

ځ: نوفل د عبد الله ځوی د مغيره لمسی او حكم د كيسان ځوی چې د بنی مغيره غلام وو، دوې دواړه د عمرو سره ملگري وو چې مسلمانانو مړه كړل.

س۵۷: لومړنی (خُمس) يعنی پنځمه په اسلام كې كومه وه؟

ځ: لومړی (خمس) يا پنځمه په اسلام كې هغه وه چې مسلمانان بدر غزا ته روان وو، په لاره كې ور سره عمرو د خضرمی زوی دوو ملگرو سره چې تجارتي قافله يې روانه كړي وه مخامخ شو مسلمانانو عمرو و واژه، ملگري يې بنديان او مال يې په غنيمت و نيولو له دې غنيمت نه مسلمانانو پنځمه برخه پيغمبر عليه السلام ته وركړه، دا په اسلام كې اوله پنځمه وه.

س۵۸: چا د لومړي ځل لپاره قرآن، آيت په آيت پرله پسې ترجمه او د موجوده قرآن په شكل يې مرتب وليكه؟

ځ: فراء لومړی هغه سړی و چې دا كار يې وكړ، دی په ۲۰۷ هـ كال كې وفات شوی.

س۵۹: چا لومړی د سيرت په علم كې كتاب ليكلی؟

ځ: محمد د اسحاق ځوی او دی په ۱۵۲هـ كال كې وفات شوی.

س۶۰: لومړنی معاهده په اسلام كې كومه وه؟

ځ: لومړنی معاهده په اسلام كې هغه وه، كله چې پيغمبر عليه السلام د مسلمانانو او په مدينه كې د ميشتو قومونو لكه بني نضير، بني قريضه او بني قينقاع ترمنځ وكړه، دا قومونه عرب وو او اسلام يې منلی نه و، د دې معاهدې په كرښو كې په ديني ازادي، مجرم ته په جزا وركولو، او په مدينه منوره باندې د هر نوعه تيري او تجاوز په صورت كې مادي او معنوي مرسته د پيغمبر عليه السلام تر مشرۍ لاندې چې د ستونزو د حلولو يواځنی مرجع او د مدينې د اوسيدونكو عمومی رئيس و توافق شوی و.

س۶۱: چا د لومړي ځل لپاره د پيغمبر عليه السلام او د مدينې د اوسيدونكو ترمنځ شوې معاهده ماته كړه؟

ځ: يهود لومړي هغه خلك وو چې له پيغمبر عليه السلام سره كړی معاهده يې ماته كړه.

س۶۲: له يهودو نه لومړی كوم قوم د پيغمبر عليه السلام او مدينې منورې د اوسيدونكو ترمنځ شوې معاهده ماته كړه؟

ځ: بني قينقاع د يهودو لومړی هغه قوم و چې معاهده يې پر يوې مسلمانې ښځې په تيري كولو سره ماته كړه.

س۶۳: له قرآن كريم نه وروسته د شريعت لومړی مصدر څه شی دی؟

ځ: د پيغمبر عليه السلام احاديث دي.

س۶۴: لومړی مؤذن په اسلام كې څوك دی؟

ځ: بلال د رباح زوی.

س۶۵: لومړی سفير په اسلام كې څوك و؟

ځ: مصعب د عمير زوی په اسلام كې لومړی سفير و، پيغمبر عليه السلام مدينې منورې ته وليږه تر څو هلته مسلمانانو ته قرآن ور زده كړي او د لمانځه امامت ورته وكړي.

س۶۶: چا د لومړي ځل لپاره د هوميروش د الياذی يوه اندازه ترجمه كړه؟

ځ: يحيا د خالد برمكي زوی لومړی كس و چې دا كار يې د عباسيانو په زمانه كې كړی دی.

س۶۷: لومړی ښځه څوك وه چې پيغمبر عليه السلام نكاح كړه؟

ځ: خديجه د خويلد لور (د ښځو رښتيني) لومړنی ښځه وه چې پيغمبر عليه السلام نكاح كړه.

(نور بيا)

فرعون عصر در حال غرق شدن

از آنجائيكه هموطنان عزيز در جريان هستند بعد از تظاهرات گسترده كشور تونس و فرار سردمداران (زين العابدين) حالا در كشور پهناور مصر نيز تظاهرات گسترده مردمی اعم از احزاب مختلف جهت تغيير نظام ديكتاتوری حسنی مبارك دست به راه پيمايی های خود آغاز و از يك هفته بدينسو ادامه دارد كه اين يك الهام نيك و پسنديده بوده كه حكومت ديكتاتور و فرعونانه مبارك كه تقريباً از سی سال بدينسو بالای مردم مسلمان مصر حاكميت داشته كه جز اعمال حاكمانه و سركوبگرانه اش هيچ نوع آزادی برای مردم خود نداشته كه مبارك خود يك شخص نظامی و دكتاتور بوده دايم ملت خود را به اعمال تهديدآميز سركوب و كشته است.

درين راستا ميتوان از عاميان اخوان المسلمين حزب مقتدر آن كشور نام برد در سی سال حاكميت حسنی مبارك هزاران تن از اعضای اين حزب به زندان كشانيده شده و اعدام گرديده اند به اين جرم كه حقوق سياسی، اسلامی و اجتماعی واقعی خويشرا در پرتو اسلام عزيز خواهان بوده، روی همرفته اين تظاهرات گسترده فراتر از يك حزب سياسی و گروهی ميباشد بلكه از تمام اقشار مردمی ميتوان آنرا وانمود كرد كه ان شاء الله تحول خوبی بران ملت مظلوم مصر در آينده نزديك خواهد داشت. ناگفته نماند در حاليكه مبارك دست مزدوری غرب را خوب فشرده بود ولی درين اواخر مشكلات اجتماعی اعم از بيكاری، فقر، بی عدالتی، فساد كه ملت آن ديار را به سرك ها كشانيده و به مشكلات عديده مردم خود هيچ توجه نداشته مهم تر از همه كشور مصر كه با تاريخ و فرهنگ ديرينه اسلامی و مذهبی و با نفوس و جمعيت مسلمان كه دارد حسنی مبارك در حاليكه همه وقته سنگ رهبری مسلمانان عرب را به سينه كوبيده در قضايای فلسطين و قدس شريف در همين دوره سردمداری خويش هيچ نوع كمك و همكاری از خود نشان نداده است كه از جمله ميتوان از شرايط و وضعيت نوار غزه و ملت مظلوم و طفلان پاه برهنه و مردم بمباری شده توسط اسرائيل غاصب را خاطر نشان نمود كه اندك ترين كمكی را با آنها نكرده برعكس تونل هائيكه در مسير نوار غزه و كشور مصر جهت اكمالات مردم غزوه حفر گرديده بود توسط رئيس استخبارات خويش برای اسرائيل افشأ نموده كه آنها يعنی مردم فقير و بی نان و آب و دوا نوار غزه با زندگی مهلك دست گريبان هستند.

و همچنان ملت مبارز و مسلمان فلسطين در همسايه گی آن از ظلم طلبيب به ستوه آمدند و همه روزه جوانان، زنان، كودكان، موسفيدان و مردم بی دفاع توسط اسرائيل از بين ميرود و سرزمين های مقدس كه به اشغال آنها می باشد شهرك ها اعمار ميگردد.

همين طور حسنی مبارك در قضيه عراق به طرفداری از غرب و قوای اشغال گر حمايت و مهر خاموشی بر دهان گذاشت در گذشته با ملت مسلمان افغانستان و مجاهدين قهرمان افغان را نيز به باد فراموشی گذاشته بود. فراموش نكنيم نظام مزدوريكه در خانه خود و به ملت خود دل نسوزاند به ملت های ديگر چی خواهد كرد و هيچ توقع از آن نبايد داشت و حالا دير و يا نزديك ان شاء الله حمايت سی ساله ييكه از غرب و اسرائيل و عامی آن (ايالات متحده امريكا) حسنی مبارك داشت از دست ميدهد و حركت سيل آسای مردمی نظام ديكتاتور فرعون زمان را به پايان خواهند رساند حالا ديگر تصميم به دست ملت ها و مردم مسلمان خواهد بود فرعون ها يكی بعد از ديگر غرق و نابود خواهند شد ملت های رنجديده آزادی واقعی خود را خواهند داشت زمينه كار، نان با آبرو، زنده گی آزاد را برای خود آماده خواهند كرد به اميد تحول و نظام واقعی اسلامی در كشورهای حاكمانه مثل تونس، مصر، سودان و ساير كشورها هستيم كه در گذشته از اندكترين خدمات، آزادی و زنده گی مرفع برخوردار نبودند اميدواريم ملت مسلمان مصر آينده خوب، كشور آزاد آرزو ميكنيم ديگر نظام خود را به روحيه اسلامی دور از هر نوع ظلم و ستم احيا خواهند نمود و مردم آن ديگر به جرم اسلام بودن و مسلمان بودن به زندان كشانيده نخواهد شد آزادی خود را داشته باشد ملت سرفراز و سربلند در آن قاره باشند به اميد آن روز.

شهادت اوونیزه

خپرووونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي ځانګه
د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
داړیکې شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
ایمیل:
shahadatnews_kabul@yahoo.com
دیزاین: خواجه وحیدالله
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې
آدرس: دحزب اسلامي دفتر
سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

امریکا در افغانستان شکست ...

است که در افغانستان اردو زده و نه تنها هیچ نتیجه‌اي حاصل نشده، بلکه شکست خورده و یک سیطره خاصی بر دولت افغانستان در نظام بین‌الملل و آراء این کشور ایجاد کرده‌اند.

این کارشناس مسائل سیاسی در ادامه اظهاراتش گفت: در سال ۲۰۰۳ نظام صدام بدون هیچ مقاومتی از بین رفت و امریکایی‌ها وارد عراق شدند و این را یک پیروزی برای خود تلقی کردند، اما واقعیت این است که بافت سیاسی عراق کاملاً متفاوت از دیگر کشورهایي است که امریکا به آن ورود نظامي پیدا کرد و این موضوع را در سال‌های اولیه متوجه نشد.

به گفته بیکلو، امریکا در عراق نیز شکست خورده و نتوانسته امنیت حداقلی را برای این کشور تامین کند که آمار کشته‌های غیرنظامی این کشور بهترین گواه این مدعاست.

نظامیان امریکایي به همراه دیگر سربازان نیروهای ائتلاف در سال ۲۰۰۱ به بهانه نابودي طالبان و از بین بردن القاعده با تمام تجهیزات جنگی وارد خاک افغانستان شدند، اکنون پس از گذشته قریب به ۱۰ سال نه تنها نیروهای طالبان شکست نخورده‌اند بلکه تسلط آنها بر بخش‌های مختلف افغانستان گسترده تر شده است.

القاعده نیز در بسیاری از کشورها ریشه دوانده و امریکایی‌ها حتی نتوانسته‌اند آنها را از بین ببرند و ماندن آنها در افغانستان با اهداف دیگری از جمله منافع مادی صورت می گیرد.

شېرپاو د افغانستان د سولې...

بهیر ملاتړ وکړي څکه چې په افغانستان کې سوله نه یوازې د پاکستان اړتیا ده بلکې د درستې سیمې ضرورت هم دی.

ښاغلي شېرپاو زیاته کړه: "د افغانستان د سولې عالي شورا په خپل جنګ ځپلي هیواد کې د دایمي سولې لپاره ګامونه پورته کړي خو د هغوی هلې ځلې د امریکا، پاکستان او افغانستان صادقانه ملاتړ ته اړتیا لري.

ده دا هم وویل چې د سولې په بهیر کې باید طالبان او نورې جنګېدونکې ډلې هم شاملې شي.

افتاب احمد خان شېرپاو چې د ذوالفقارعلي بوټو او وروسته د بېنظیر بوټو په مشرۍ د پیپلز ګوند د خیبرپښتونخوا (هغه وخت شمال مغربي سرحد ایالت) مشر وو، په وروستیو کلونو کې له دغه ګوند څخه انشعاب کړی او اوس په خپله د پیپلز ګوند د یوې ډلې مشر دی.

ښاغلي شېرپاو د افغانستان د ولسمشر وروستي څرګندونې، چې چا ته به اجازه ورنه کړي چې د افغانستان له خاورې د پاکستان پرضد د تروریستي اعمالو لپاره کار واخلي، وستایلې.

ده د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ګډ کمیسون د جوړېدا هرکلی هم وکړ او د افغانستان او پاکستان ترمنځ د امن د جرګې د احیا کېدو غوښتونکی شو.

د افغانستان ولسمشرد نوې ولسي جرګې د پرانستلو (دلو۶) په مهال په تاکید وویل چې افغانستان به هیڅ هیواد او خواک ته اجازه ورنه کړي چې د افغانستان له خاورې د پاکستان په خاوره کې د تروریستي بریدونو لپاره کار واخلي. ده په جرګه کې د پاکستان پر ناست استازي ږغ وکړ چې خپلو چارواکو ته د ده دا پیغام او اطمینان ورسوي.

ټوني بلېر د حسني مبارک له ...

پیل کړي.

سلیمان وویل د تېر مني د انتخاباتو د نتیجو پر خلاف د استنفا محکمې د فیصلو د عملي کولو لپاره ګامونه پورته کېږي.

د مصر پوځ د دوشنبې په ورځ وویل چې د مظاهره چیانو پرضد به له زور څخه کار وانخلي. خو د مصر د یوې رسنۍ په وینا پوځ په عین حال کې هغو کسانو ته خبرداری ورکړی چې د هیواد د امنیت د بې ثباته کولو هڅه وکړي.

په همدې حال کې د مصر دولتي تلویزیون وویل، وروسته له دې چې اعتراض کوونکو لپاره د عمومي کاربندی او یو ملیوني لاریون ږغ وکړ، د اورګاډو ټګ راټګ یې کینسل (لغوه) کړ.

"د اورګاډو ټګ راټګ او د قاهرې او ټولو ولایتونو ترمنځ ارتباط درول شوی دی. وروسته له دې چې د ګیزې (Giza) خلک، چې د قاهرې ګاونډی ولایت دی او د نیل سین په وسیله جلا شوی، خپلې سیمې ته لاړل قاهرې ته ټول پلونه وتړل شول. په حقیقت کې له قاهرې سره د ګیزې او نورو ولایتونو ارتباط غوځ شوی دی."

له تېرې اوونۍ راهیسې چې ناامنی پیل شوې دي د مظاهره چیانو او امنیتي ځواکونو ترمنځ په شخړو کې تر سلو زیات کسان وژل شوي دي.

د امریکا ولسمشربارک اوباما او د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلنټن په مصر کې د ازادو او عادلانه انتخاباتو غوښتنه وکړه خو دا یې ونه ویل چې ایا حسني مبارک هم باید په انتخاباتو کې ګډون وکړي او کنه.

د سپینې ماڼۍ ویندوی رابرټ ګیبس پرون ناوخته د نوې حکومت د ګومارلو په اړه د مبارک هڅه رد کړه، ویې ویل چې د مصر حالات عمل ته اړتیا لري نه د وزیرانو ټاکنې ته.

ګیبس وویل، په قاهره کې د امریکا سفارت روانه اوونۍ د اپوزیسیون له مشر محمد البرادعي سره تماس نه دی نیولی.

ګیبس همداراز وویل چې د ولسمشر اوباما حکومت له اخوان المسلمین سره هیڅ راز ارتباط او تماس نه دی لرلی.

له بلې خوا اروپایي اتحادیې پرون له مصري چارواکو وغوښتل چې له مخالفو ډلو سره خبرې وکړي، بندي مظاهره چیان خوشي کړي او د ناکراریو د پای ته رسولو لپاره، چې ټول هیواد ته غځېدلې دي، د ولسواکۍ لور ته ګامونه واخلي.

د اروپایي اتحادیې د بهرنیو اړیکو مشرې کاترین اشتن وویل چې دا د حکومت ضد مظاهرو په ترڅ کې د انسانانو پر وژل کېدو خواشینې ده او ضروري بولي چې د پولیسو په شمول ټولې خواوې د نورو وینو د بهېدو د مخنیوي لپاره له زغمه کار واخلي.

په همدې حال کې د منځني ختیځ لپاره نړیوال استازي ټوني بلیر پرون وویل چې د مصر د مشرتابه بدلون حتمي دی.

سه تن از وکلای ولسی جرگه ...

نکرده است.

صدیق الله حقیق در ادامه گفت:

"پیش از این مقامات کمسیون مستقل انتخابات افغانستان وعده کرده بودند که با ما همکاری می کنند، اما گفته بودند که از عهده همکاری کامل که شامل تمام ولایات شود، به در آمده نمی توانند، بنابر این از ارسال مکتوب ما به این کمسیون سه روز می گذرد، کار ما در ۱۲ ولایت تمام شده است، فقط ما در انتظار دریافت مکتوبی از جانب کمسیون مستقل انتخابات هستیم که به اساس آن با ما در مرکز و ولایات همکاری شود."

خواستیم در این مورد نظر کمسیون مستقل انتخابات را نیز داشته باشیم اما با وجود تماس های مکرر قادر به این کار نشدیم.

محکمه اختصاصی برای رسیده گی به دعوای حقوقی نامزدان معترض از بیشتر از یک ماه به این سو تشکیل گردیده است، اما انتقاد های زیاد وجود دارد که این محکمه تا اکنون در خصوص بررسی دوسیه های نامزدان بازنده فعالیتی نداشته است.

افغانستان د نړیوالو رسنیو په هنداره کې

نړیوالو ورځپاڼو هر یو ګارډین او نیشنل ریویو اونیزې په خپلو وروستی ګڼو کې د افغانستان په اړه بېلابېلې مقالې او راپورونه خپاره کړي چې لنډیز یې د شهادت اوونېزې لوستونکو ته وړاندې کېږي:

نیشنل ریویو:

نیشنل ریویو اونیزه په خپلې وروستی ګڼه کې د افغانستان د حالاتو په اړه د یوه امریکایي سناتور مارکو روبیو څرګندونې راخیستې دي.

نوموړي وېلي ۲۰۱۱ میلادي کال د افغانستان لپاره حساس دی څکه په دې کال کې به د افغانستان د امنیت او دولت د پیاوړي کېدو لپاره د امریکا اراده وازمویل شي.

سناتور مارکو روبیو نیشنل ریویو ته ویلي له افغانستان او پاکستان څخه ما په خپله وروستی کتنه کې ولیدل چې د دغې سیمې د دایمي ثبات لپاره په رواڼو هڅو کې زموږ پوځي او دیپلوماتیکه ونډه څومره مهمه ده.

سناتور روبیو وایي، دې سفر زما دا باور نورهم قوي کړ چې د افغانستان امنیت زموږ د امنیت لپاره ډېر مهم دی.

نیشنل ریویو د هغه له قوله لیکي: امریکا باید په دغې سیمه کې د تروریزم ضد مبارزه کې لوی رول ولوبوي او د افغان ځواکونو د پرمختګ د پروسې، د قانون د حاکمیت د پراخوالي، د سیمه ایز اقتصادي پرمختګ او د سخت دریځو پر ضد د پاکستان د روانو هڅو ملاتړ او همکاري وکړي، سناتور روبیو وړاندې وایي:

په داسې حال کې چې په دغو مسلو کې د متحده ایالاتو همکاري مهمه ده نو یقیناً امریکا په یوازې ځان دې بار ته اوږه هم نه شي ورکولی.

هغه ویلي، د افغانستان د اوږدې مودې امنیت لپاره دې ته اړتیا ده چې افغانان په خپله د چارو مشري پر غاړه واخلي.

نوموړي امریکایي سناتور د افغان ځواکونو د روزنې له یوه مرکز څخه د خپلې کتنې یادونه کړې او وایي چې د افغان قواو د روزنې په برخه کې ښکاره او ستر پرمختګ شوی دی.

خو د مارکو روبیو په وینا که چېرته امریکا او متحدان یې د افغان سرتیرو د زده کړې د کموالي، نشه یي موادو د اعتیاد، فساد، اساسي اسانتیاو برابرولو او د طالبانو د بیا راتګ په اړه د افغان ځواکونو د ویرې د لرې کولو په برخه کې همکاري ونه کړي نو دا پرمختګونه به موقتي بڼه ولري.

ګارډین

د بریتانیا چاپ ګارډین ورځپاڼې بیا افغان دولت ته د پروان د زندان د سپارلو موضوع ته کتنه کړې او په دې اړه په یوه مطلب کې لیکي:

د پروان په زندان کې امریکایي ځواکونو ۱۴۰۰زندانیان پرته له کومې محاکمې ساتلي او دا شمېر هره اونۍ مخ په زیاتیدو ده، د مقالې د لیکونکي په وینا د دغو بندیانو د برخلیک په مسله کې بیا دواړه خواوې له یو بل سره ستونزه لري.

ګارډین لیکي: امریکایي چارواکي په دې نظر دي چې کېدای شي یو کم شمېر بندیان په لازمه توګه محاکمه شي خو دا چې هغوي د استخباراتي معلوماتو پر اساس نیول شوي او دا معلومات په محاکمو کې ثبوت کېدای نه شي، نو بنایي خوشې شي.

ورځپاڼه زیاتوي د افغانستان قانوني سیستم به د دغو زندانیانو د قانوني حقونو درناوی وکړي او چې پر هغوي کوم ډول جرم ثابت نه شي نو د قانون پر اساس باید ازاد شي.

سره له ده چې امریکایي مقاماتو دا نه دي ویلي چې کله به د پروان د زندان چارې افغان دولت ته سپارې خو د زندانیانو په اړه د ولسمشر حامد کرزي فرمان د دې کار لپاره لازمي شرط ګڼي.

د اوباما استازي له امریکا سره ...

بولي، خو په عمل کې دغه سازمان په دې برخه کې کوم اقدام نه دی کړی.

ښاغلي حسین بیا په افغانستان کې د سعودي عربستان، ترکیې، مصر او مالیزیا په ګډون د یو شمېر اسلامي هېوادونو رول د ستاینې وړ وباله.

نوموړي همدا راز د امریکا او اسلامي نړۍ ترمنځ اړیکې مهمې وبللې او ویې ویل دغه اړیکې یوازې د ترهګرۍ پر ضد مبارزې پورې نه دي تړلې:

(موږ په پراخه کچه له اسلامي نړۍ سره اړیکې لرو، موږ یوازې له سیاسي شخړو سره چلند نه کړو لکه په افغانستان او منځني ختیځ کې جګړه، موږ یوزاې له تروریزم سره معامله نه کوو، بلکې غواړو ژاډمنه کړو، چې له اسلامي نړۍ سره په هغو برخو کې بوخت یو چې مسلمانان په کې ښه تولید لري، لکه تعلیم، روغتیا، ساینس او تکنالوژي. نو موږ غواړو چې ژاډمنه کړو، زموږ ملګرتیا پراخه ده.)

هغه وویل، اسلام داسې یوه عقیده ده چې تروریزم ردوي او یوازې یوه وړه ډله مسلمانان په تروریستي فعالیتونو کې ښکیل دي.

نوموړي په مصر کې د روانو حالاتو په اړه د امریکا د دریځ په اړه وویل، هېواد یې د مصر د خلکو له حقونو دفاع کوي، د تاوتریخوالي مخالف دی او د یوې منظمې انتقالي پروسې له لارې دیموکراسی ته د بدلون غوښتنه لري.

تمام عواید معادن افغانستان به...

کشور به امضا رساند، گفت که وی تقاضا دارد تا برای شفافیت عواید همه ادارات دولتی و جلوگیری از فساد، باید چنین اقداماتی را اتخاذ کنند.

نیواکګر ځواکونه دې له ...

له مالیې وزیر ډاکټر عمرزاخېلوال سره په کتنه کې وویل: "د ایران اسلامي جمهوریت تل د افغانانو ترڅنګ دربدلی او په افغانستان کې یې د امنیت او پرمختګ ملاتړ کړی دی."

ده همداراز وویل: "ایران له ګاونډیو هیوادونو سره د اقتصادي راکړو ورکړو پراختیا ته لومړیتوب ورکوي او له افغانستان سره د اقتصادي همکاریو په پراختیا کې هیڅ راز محدودیت نه وضع کوي."

احمدي نژاد دا څرګندونې وروسته له دې وکړې چې ایراني چارواکو تقریباً دوه میاشتې د افغان سوداګرو د تېلو شاوخوا دوه نیم زره ټانکرونه په خپله خاوره کې ودرول او افغانانو ته یې د لسګونو ملیون ډالرو زیان واړاوه.

ایراني چارواکو د دغو ټانکرونو د مخنیوي لپاره راز راز پلمې کولې. کله به یې ویل چې دوی شک لري چې دا تېل په افغانستان کې د ناټو ځواکونو ته وړل کېږي او کله به یې ویل چې دوی د ټانکرونو مخه نه ده نیولې.

خو وروسته له دې چې افغان سوداګرو خبرداری ورکړ چې له ایران سره به سوداګري راکړې ورکړې قطع کړي او د ایران په ځای به د نورو هیوادونو له لارو تېل وارد کړي، ایراني چارواکو د افغان سوداګرو د تېلو ټانکرونه پرېښودل چې افغانستان ته راواوړي.

احمدي نژاد د افغانستان له مالیې وزیر سره په کتنه کې په افغانستان کې د امنیت او سیاسي ثبات د ټینګښت پر اهمیت ټینګار وکاوه او ویې ویل چې نیواکګر دې له افغانستانه ژر تر ژره ووځي. ایران په افغانستان کې د امریکا او ناټو ځواکونه اشغالګر ځواکونه بولي او څو ځلې یې د هغو د وتلو غوښتنه کړې او ویلي، ترڅو چې دا پوځیان وتلي نه وي په افغانستان کې سوله نه شي راتلای.

خو ایران په عین حال کې طالبان هم نه خوښوي او هغوی د شیعه ګانو دښمنان ګڼي. مګر غواړي چې طالبان په افغانستان کې د اوسني حکومت او نړیوالو ځواکونو پرضد استعمال شي.

د ایران ولسمشر په افغانستان کې پر پوځي چارو د پیسو لګښت وغانده او ویې ویل که دا پیسې پر بیارغونه ولګول شي امنیت ورسره ښه کېږي.

د احمدي نژاد اشاره د امریکا هغې پرېکړې ته وه چې غواړي د افغان امنیتي ځواکونو پر پراختیا او تجهیز نږدې یوولس ملیارد ډالره نور ولګوي.

د افغانستان د مالیې وزیر له احمدي نژاد سره په خبرو کې وویل چې د کابل او تهران ترمنځ اقتصادي همکارۍ مخ پر پراختیا دي او افغانستان غواړي چې دا اړیکې لا زیاتې شي.

زاخېلوال وویل، افغانستان سره له دې چې په امنیتي او اقتصادي چارو کې د نړیوالې ټولنې ملاتړ ته اړتیا لري، یو ښېړ خپلواک هیواد دی.

افزایش قیمت تریاک باعث ...

وضعیت خشک آب و هوا، تغییر ماحول سیاسی، افزایش کنترول حکومت و افزایش عملیات نظامی قوای بین المللی و افغان در زمان کشت کوکنار احتمالاً از عوامل بوده باشند که باعث آن شده باشند که دهقانان به کشت کوکنار رو نیآورند.

قوای افغان و بین المللی از سال ۲۰۱۰ به این سو در ساحات مربوط به قندهار و هلمند فشار بر طالبان را افزایش داده اند و در این منطقه برخی از دست آوردهای هم داشته اند.

در این گزارش گفته شده که در بخش های ولایت های عمدتاً غربی، شرقی و مرکزی کشت کوکنار افزایش یافته است.

در این گزارش سازمان ملل متحد از گرایش افزایش کشت کوکنار در مناطق غربی و شرقی مخصوصاً در ولایت ننگرهار هشدار داده شده است و گفته شده ننگرهار امکانات آن را دارد که به یک ولایت عمده زرع کوکنار مبدل شود.

در این گزارش مرحله اول بررسی برای ماه های دسامبر و جنوری مورد مطالعه قرار گرفته است. در این گزارش گفته شده، به نظر می رسد که در سال ۲۰۱۱ قریه های که نا امن هستند و کمک های زراعتی دریافت نکرده اند بیشتر به کشت کوکنار روبیاورند.

در اوایل ماه جاری جنوری اداره مبارزه با مواد مخدر ملل متحد گفته بود که بلند رفتن قیمت تریاک می تواند طی چهار سال برای اولین بار منجر به افزایش کشت کوکنار در سال ۲۰۱۱ در افغانستان شود. قیمت تریاک در سال ۲۰۱۰ در افغانستان ۱۶۴ درصد بلند رفت. محصول کوکنار در این سال بخاطر وضعیت جوی خراب و آفت نباتی تقریبا نصف شد. افغانستان با تولید ۷۷ درصد تریاک جهان بزرگترین تولید کننده آن در جهان می باشد. به گفته ملل متحد حد اقل یک ملیون هفت صد هزار دهقان به طور مستقیم در کشت کوکنار در افغانستان دخیل اند.